ژمنتیا،رښتینولي او ولس ته خدمت
زموږ په کاري لومړیتوبونو کې دي!

وزارت دولت در امور شهدأ و معلولین

ماه نامه **ارمان شهدأ و معلولین افغانستان**

دوه دېرشمه ګڼه، پنج شنبه، ۱ تلې ۱۳۹۹

# د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزارت د ۱۴۰۰کال د بودجې دفاعي غونډه وشوه!

د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزارت د ۱۴۰۰ مالي کال د بودجې دفاعي غونډه د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزارت او مالیې وزارت د مسولینو په ګډون جوړه شوه. په یاده غونډه کې د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزیر لعل الدین اریوبي، د نظامي چارو مرستیالې صبري اندړ، د تخنیکي چارو مرستیالې جمیلې نورستانۍ، د مالیې وزارت د مالي چارو معین عبدالحبیب خدران او د دوارو ادارو ګڼو نورو مسولینو هم ګډون درلود. په پیل کې د مالیې وزارت د تولنیز مصونیت د برخې مسول ډاکټر مطیع الله د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزارت په همکارۍ د دې وزارت د ۱۳۹۹کال د فعالیتونو، اجرااتو، د بودجې د لګښت او په څو کودونو کې د بودجې د اړتیا په اړه پرزنتېشن وړاندې کړ، چې د دوارو وزارتونو د بودجې کمېټې غړو یې په اړه خپل دلایل او نظرونه وړاندې کړه. د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزیر لعل الدین اریوبي د وزارت د ۱۴۰۰ مالي کال د بودجې په اړه خبرې وکړې وویل: دغه وزارت نوی رامنځته شوی، د اداري تشکیل ته په کتو د معاشونو او لګښتونو په کودونو کې بودجوي محدودیتونو سره مخ دی، چې باید په یادو برخو کې زیاتوالی رامنځته او د ستونزو په هوارې کې اغېزناک تمام شي. د ښاغلي آریوبي له ګڼو نورو دلایلو وروسته د مالي چارو معین ښاغلي خدران او کمېټې غړو د رایو په اکثریت زمنه وکړه، چې په ۱۴۰۰مالي کال کې به د دې وزارت په ټولو بودجوي کودونو کې د پام وړ زیاتوالی رامنځته شي. همدا ډول د کال تر نیمایي پورې د ټاکل شوې بودجې د کچې د څېړنې او د وزارت له لوري د شویو وړاندیزونه تحقق په صورت کې به بودجه نوره هم زیاته شي. په دې غونډه کې د مالیې وزارت د مالي چارو معین او د بودجې د کمېټې غړو د وزارت د رهبرۍ له لوري په کمه موده کې د ترسره شویو فعالیتونو، اصلاحاتو او سیستم جوړونې ستاینه وکړه او د اداري د پراختیا لپاره یې اغېزناک او ګټور وګڼل.








اعلامیه تسلیت وزارت دولت در امور شهدا و معلولین در پیوند به حمله انتحاری در ولایت غور!

تاریخ: یک شنبه 27 میزان: با تاسف و تاثر فراوان، صبح امروز ولایت غور گواه یک حمله انتحاری بود، حمله که بالای آمریت امور شهدا و معلولین، ریاست امور زنان و ترافیک قرارگاه فرماندهی پولیس این ولایت صورت گرفت. اکثریت قربانیان این حادثه افراد ملکی می باشند. این رویداد نیز در ادامه عملکرد زنجیره ای بالای افراد و تاسیسات ملکی بوده که پیام آور و نشان دهنده اوج زبونی و بی رحمی گروه های تروریستی است. این گروه دهشت افگن بار دیگر واضح نشان داد که به هیچ یک اصول اسلامی و انسانی باور نداشته استخوانرزی، دهشت افگنی، هدف قرار دادن افراد ملکی و تخریب تاسیسات ملکی و عام المنفعه هدف این ها می باشد. هیئت رهبری وزارت دولت در امور شهدا و معلولین، ضمن محکوم نمودن این حادثه ضد بشری و اسلامی، به شهدا حادثه فردوس برین و برای زخمیان و آسیب دیدگان این حادثه صبر و شکیبایی عاجل استدعا می دارد. بااحترام

لعل الدین آریوبی

وزیر دولت در امور شهدا و معلولین



وزیر دولت در امور شهدا و معلولین در راس هیاتی به ولایت بدخشان سفر نمود...۲



د پیامبر اعظم (ص) د پیاوړتیا د ستر مرکز د پرانیستې تر څنګ د اشاری ژبې او سپینې امسا نړیوالې ورځې ونمانځل شوې...۳



وزیر دولت در امور شهدا و معلولین در راس هیاتی به ولایت پروان سفر نمود...۴



## وزیر دولت در امور شهدا و معلولین در راس هیاتی به ولایت بدخشان سفر نمود!

لعل‌الدین آریوبی وزیر دولت در امور شهدا و معلولین، به ادامه سفرهای ولایتی به هدف بررسی وضعیت و رسیدگی به مشکلات ورثه شهدا و افراد دارای معلولیت، با هئیت همراه شان عازم ولایت بدخشان شده، با والی و مقامات این ولایت دیدار و صحبت نمودند. در این سفر همراه خان منیب مشاور رئیس جمهور در امور شهدا و معلولین و سایر همکاران نیز آقای آریوبی را همراهی می نمودند که مورد استقبال گرم مقامات و مردم ولایت بدخشان قرار گرفتند. نخست محترم ذکریا سودا والی ولایت بدخشان، روی مسایل مختلف از جمله: بررسی اسناد، تحصیلات، پرداخت حقوق، استخدام، آگاهی دهی، دسترسی فزیکی معلولین به اماکن عامه، سرپناه و سایر نیاز های این قشر صحبت نمودند. محترم ذکریا سودا از تشریف آوری آقای آریوبی و هیئت همراه شان به این ولایت خوش آمدید و ابراز امتنان نموده و افزودند، با فعالیت ها و دست آوردهای چشم گیر وزارت دولت در امور شهدا و معلولین که در سال های اخیر در بخش های مختلف صورت گرفته، نمایانگر پیشرفت های ارزنده این وزارت می‌باشد که تاثیر آن در بهتر شدن زندگی قشر معلول و خانواده شهدا اثر گذار خواهد بود. سپس داکتر ضیا نقشی نماینده مردم بدخشان در مجلس نمایندگان، از پیشرفت ها و نیاز های امریت امور شهدا و معلولین، پروسه صلح و همکاری های مشترک آینده صحبت نمودند. در ادامه لعل الدین آریوبی وزیر دولت در امور شهدا و معلولین، روی حل مشکلات و رسیدگی به نیاز های ورثه شهدا و معلولین تاکید کرده و اضافه نمودند، به هدف رسیدگی به نیاز ها و مشکلات ورثه شهدا و افراد دارای معلولیت اقدامات مهم و عملی صورت گرفته است. همچنان آقای آریوبی افزودند: ختم بروکراسی، سیستم سازی، تفکیک اسناد سیاه از سفید و تامین شفافیت از اولویت ها وزارت بوده که با هماهنگی و تلاش های همکاران توانسته ایم یک سیستم درست مدیریتی را ایجاد نمایم؛ تا سهولت و سرعت در روند ارایه خدمات به ورثه شهدا و افراد دارای معلولیت در آن در اولویت قرار داشته باشد. آقای آریوبی ضمن پیشرفت سایر کارها در مرکز، تاکید روی ایجاد مرکز توان بخشی و آسایشگاه برای افراد دارای معلولیت در ولایت بدخشان نموده و آن را یک نیاز مبرم در باز توانایی افراد دارای معلولیت عنوان نمودند. متعاقباً لعل‌الدین آریوبی همراه با معاون والی ولایت بدخشان و هیئت همراه شان، با رییس شهرسازی و اراضی، مستوفی، شاروال و آمر امور شهدا و معلولین ولایت بدخشان دیدار و تدویر جلسه نمود. در این دیدار آقای آریوبی روی مسایل همچون اعمار شهرک ها و مرکز آسایشگاه برای ورثه شهدا و افراد دارای معلولیت در این ولایت صحبت نموده و افزودند، با نیازمندهای مبرمی که این قشر به آسایشگاه و سرپناه دارند با آنان مهیا گردند. آقای آریوبی از گشایش و خدمات آسایشگاه مرکز یاد آوری نمود و همچنان از تفاهم نامه که با شاروالی کابل و وزارت شهرسازی و اراضی برای تهیه سرپناه به ورثه شهدا و افراد دارای معلولیت یاد آور شدند. ایشان نیز در مورد بانکی سازی، سرعت در پرداخت حقوق ورثه شهدا و معلولین با مستوفی آن ولایت صحبت کردند. در ادامه رئیس شهرسازی و اراضی، مستوفی و شاروال ولایت در زمینه صحبت نمودند و از اقدامات و پلان های که در زمینه انجام شده است یاد آور شدند که کار روی این مسایل جریان دارد و با هماهنگی آمریت امور شهدا و معلولین این ولایت نهایی میشود. در این جریان آقای آریوبی با اعضای بررسی اسناد و وثایق و با عده از نمایندگان افراد دارای معلولیت این ولایت دیدار نمود و از پروسه بررسی شفاف اسناد در مرکز و ولایات و همچنان آگاهی عامه، ایجاد سهولت ها در دسترس معلولان به اماکن عامه، استخدام و عملی سازی سایر نیاز ها به آنان اطمینان داد و گفتند با همکاری و پشتوانه شما بتوانیم اسنادهای جعلی و خیالی را شناسایی نموده تا باعث تقویت اقتصاد و حقوق شما گردیم. در این جریان این سفر نیز سیستم جدید برقی آمریت امور شهدا و معلولین با حضور داشت هئیت اعزامی به این ولایت افتتاح شد.





## د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزارت مشرتابه هلمندی زده کوونکی صبغت الله وستایه!

د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزیر ښاغلي لعل الدین آریوبي هلمندی ماشوم، چې کمبودیا کې یې د ځلوېښتو هېوادونو تر منځ د ریاضي نړیواله سیالی کې لومړی مقام ګټلی و وستایه. ښاغلي آریوبي صبغت الله او د هغه کورنی ته د دغه ستر وياړ مبارکي وویله او هغه ته یې د پښتون ژغورني غورځنګ د مشر منظور پښتین د مبارزي سمبول سره مزاری خولۍ، د اعزاز لونګۍ، چپنه، ستاینلیک او IPAD ډالی کړل. ښاغلي آریوبي زیاته کړه، هلمند یو جګړه ځپلی ولایت دی، د زده کړو فرصتونه پکې کم لیدل کیږي او د هلمند د نوم په اورېدو د خلکو په ذهن کې یوازې د جګړې تود دګر انځورېږي؛ خو له نیکه مرغه کوچني صبغت الله خان د خپلی خارق العاده ورتیا پر اساس د هلمند په اړه ټول ناسم روایتونه بدل کړل او دا یې وښوده، چې د جګړې د اور په لمبو کې د سوځېدونکي هلمند غېږه داسي استعدادونه هم لري، چې د ریاضي په نړیواله سیالی کې د ۴۰ هېوادونو تر منځ لومړی مقام ګټلی شي. ښاغلي آریوبي څرګنده کړه، چې صبغت الله ستره کارنامه کړې. په لویه کچه باید وستایل شي، تر څو نورو کوچنیانو ته د خپل استعداد د غوړېدا او پرمختګ انګیزه ورکړي.





## د پیامبر اعظم (ص) د بیاورتیا د ستر مرکز د پرانیستې تر څنګ د اشارې ژبې او سپینې امسا نړیوالې ورځې ونمانځل شوې!

د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزارت د نابینایانو او نه اورېدونکو وګړو د نړیوالې ورځې نمانځنې تر څنګ د پیامبر اعظم (ص) د بیاورتیا مرکز (مرکز توانبخشی) فعال او په رسمي توګه معلولینو ته د خدمتونو وړاندې کولو په موخه پرانیست. د نابینایانو او نه اورېدونکو وګړو د نړیوالې ورځې د نمانځنې او د پیامبر اعظم د بیاورتیا مرکز د پرانیستې په مراسمو کې د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزارت رهبري، د معلولینو په چارو کې د جمهور رییس سلاکار عمرا خان منیب، د بشري حقونو خپلواک کمیسیون کمېشنرې بلقیسه یعقوبي، د مشرانو جرګې سناتورانو، معلولینو، نابینایانو او نه اورېدونکو وګړو ګډون درلود. په پیل کې د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزارت د ټولنیزو خدمتونو رییس سید عالم هاشمي د نه راغلاست تر څنګ د یاد مرکز په اړه ګډونوالو ته بشپړ معلومات وړاندې کړه. وروسته د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزیر لعل الدین اریوبي د نابینایانو او نه اورېدونکو د نړیوالې ورځې له کبله ټولو معلولینو ته مبارکي ووېله زیاته یې کړه، چې دغه ورځې په ټوله نړۍ کې نمانځل کېږي او یاد وزارت هم تېر کال دغه ورځ د یحوالي اجرائیه رییس په حضور کې د معلولینو په پراخ ګډون سره ونمانځله. ښاغلي آریوبي ووېل، چې معلولیت لرونکو وګړو ته په مختلفو برخو کې د اسانتیاوو او امکاناتو برابرولو برخه کې تېر کار شوی، چې د پیامبر اعظم د بیاورتیا مرکز پرانیسته یې نه بېلګه ده. زیاته یې کړه، چې معلولیت لرونکو وګړو ته د زده کړو، کارموندنې، اقتصادي بیاورتیا، ټولنیز او سیاسي ګډون، فزیکي لاسرسي او نورو برخو کې دولتي او غیر دولتي بنسټونو سره د همکارۍ نوې ارخېز هوکړه لیکونه لاسلیک شوي او وخت پر وخت له ټولو ادارو د کړنو راپور اخیستل کېږي. ښاغلي اریوبي څرګنده کړه، چې معلولیت لرونکي وګړي روغتیايي برخه کې ډېرو مرستو ته اړتیا لري، دغه مرکز دوی ته د روغتیايي خدمتونو وړاندې کولو په موخه جوړ شوی او هڅه یې دا ده، چې د دې مرکز د پراختیا او نور سمبالښت لپاره مرستې او همکارۍ جلب کړي. ښاغلي اریوبي زیاته کړه، چې د شهیدانو د ورثې او معلولینو ستونزو ته د بشپړې رسېدنې په موخه یې ولایتونو ته سفرونه پیل کړي دي؛ په مستقیمه توګه د یاد قشر د ستونزو او وړاندیزونو اورېدل، دوی ته د نغدو وېش، د حقوقو پر وخت ورکړه، بانکي سازي، د اسنادو او وثیقو د خیوني ژر بشپړول، د برېښنايي تذکرو وېش، د اسانتیاوو جوړول، کارموندنه او د روغتیايي خدمتونه برابرول یې د سفرونو اساسي موخې دي. ښاغلي اریوبي د پیامبر اعظم بیاورتیا مرکز پرانیسته یو ستره لاسته راوړنه وګڼله ووېل، چې نننه په معلولیت لرونکو وګړو ته په وړیا توګه د فزیوتراپي، ارتوپېډي، د بدن د مصنوعي غړو جوړولو، غوږ او پزې، سترګو او رواني مشورو په برخو کې معلولینو ته روغتیايي خدمتونه وړاندې کېږي. نوموړي څرګنده کړه، چې دا مرکز په نویو، عصري او پرمختللو روغتیايي وسایلو سمبال او متخصص ډاکټران د ناورغانو په جوړ کې دي. نوموړي زیاته کړه، چې د روغتیايي خدمتونو برخو کې به معلولینو ته پاملرنه نوره هم زیاته او ټولو ستونزو ته به یې رسېدګي وکړي. د جمهور رییس سلاکار عمرا خان منیب، د افغانستان د معلولینو د ټولنیزې شورا رییس مسعود صافي، د بشري حقونو خپلواک کمیسیون کمېشنرې او نورو د نابینایانو او نه اورېدونکو نړیوالې ورځې د مبارکۍ تر څنګ د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزارت اصلاحي برنامې او لاسته راوړنې وستایلې او د پیامبر اعظم د بیاورتیا مرکز بیا فعالول او پرانیسته یې د وزارت یو ستر او مهم ګام وباله او وړاندیز یې وکړ، چې د دې مرکز د پراختیا او سمبالښت لپاره نور ګامونه هم پورته شي، تر څو د معلولینو روغتیايي ستونزې په بشپړ ډول حل شي. ښاغلي اریوبي، د وزارت مرستیالانو او ګډونوالو د نابینایانو د نړیوالې ورځې په ویاړ یو شمېر نابینا وګړو ته اساوي هم ډالۍ کړې او دا دې ورکړه، چې په ټولو برخو کې به یې ملاتړ او لاسنیوی وکړي.





## اعلامیه مطبوعاتی وزارت دولت در امور شهدا و معلولین در پیوند به روز جهانی نا شنوایان !

معلولیت پدیده جهانی است، شهروندان اکثر کشورها یا به دلیل حوادث طبیعی و یا غیر طبیعی از پدیده معلولیت متاثر بوده است .افغانستان نیز کشوری بوده که میلیون ها شهروند معلول داشته که بیشتر آنها به دلیل حوادث غیر طبیعی پدید آمده است. معلولیت با وجودی که یک پدیده فراگیر بوده ولی هرگز یک نقیصه و ناتوانی نبوده است. معلولین در جاها و در مقطع های مختلف تاریخی نشان داده است که می توانند مثل سایر شهروندان در فعالیت های زندگی بدرخشد و افتخار آفرینی کنند. مطابق کنسوانسیون و پروتکول های بین المللی معلولین اعم از جسمی و روحی حق برابر مثل سایر شهروندان داشته و می توانند از حقوق اساسی شان مستفید شوند .ناشنوایی نیز از معلولیت شایع در جامعه بشری بوده که در کمیت های مختلف وجود داشته است، امروز ناشنوایی نه تنها یک ضعف جسمی نبوده بلکه یک مهارت ارتباطی قلمداد شده که مهمترین ارتباط غیر کلامی را تشکیل می دهد . سازمان ملل متحد (30) سپتامبر برابر با (9) میزان را روز جهانی ناشنوایان تعیین کرده است، همه روزه از این روز در سراسر جهان تجلیل می شود . وزارت دولت در امور شهدا و معلولین نیز روز جهانی ناشنوایان را گرامی داشته و متعهد است که با برنامه ریزی دقیق، تسهیلات لازم را در جهت تقویت مهارت های ارتباطی ناشنوایان با سایر شهروندان فراهم می نمایند. این وزارت همزمان با روز جهانی ناشنوایان پیام خوشی را برای هموطنان نوید می دهد که مرکز توانبخشی پیامبر اعظم را احیا و فعال نموده که معلولیت جسمی و روحی مختلف را درمان نموده و عنقریب افتتاح خواهد شد . باحترام

لعل الدین اریوبی

وزیر دولت در امور شهدا و معلولین



## وزیر دولت در امور شهدا و معلولین در راس هیاتی به ولایت پروان سفر نمود!

لعل‌الدین آریوبی وزیر دولت در امور شهدا و معلولین، به ادامه سفرهای ولایتی به هدف بررسی وضعیت و رسیدگی به مشکلات ورثه شهدا و معلولین روز سه شنبه، ۸ میزان سال جاری با هیئت همراه شان عازم ولایت پروان شده، با والی و مقامات این ولایت دیدار و صحبت نمودند. در این سفر که جمیله دوستانی معاون امور تخنیکی وزارت دولت در امور شهدا و معلولین و عمران خان منیب مشاور ریاست جمهوری در امور شهدا و معلولین نیز آقای آریوبی را همراهی می نمودند؛ در نخست اتحاف دعا به روح شهدای اخیر سیلاب های پروان نموده و به شهدا جنت فردوس استدعا نمودند. سپس با محترم دگر جنرال فضل‌الدین عیار والی ولایت پروان، روی مسایل مختلف از جمله؛ بررسی اسناد، تحصیلات، پرداخت حقوق،استخدام، آگاهی دهی ، دسترسی فزیکی معلولین به اماکن عامه، سرپناه و سایر نیازهای این قشر صحبت نمودند. محترم فضل‌الدین عیار از تشریف آوری آقای آریوبی و هیئت همراه شان به این ولایت خوش آمدید و ابراز امتنان نموده و افزودند، با فعالیت ها و دست آوردهای چشم گیر وزارت دولت در امور شهدا و معلولین که در سال های اخیر در بخش های مختلف صورت گرفته، نمایانگر پیشرفت های ارزنده این وزارت می‌باشد که تاثیر آن در بهتر شدن زندگی قشر معلول و خانواده شهدا اثر گذار خواهد بود. آقای عیار نیز از پیشرفت ها و نیازهای آمریت امور شهدا و معلولین، پروسه صلح و همکاری های مشترک آینده صحبت نمودند . لعل الدین آریوبی وزیر دولت در امور شهدا و معلولین، روی حل مشکلات و رسیدگی به نیازهای ورثه شهدا و معلولین تاکید کرده و اضافه نمودند، به هدف رسیدگی به نیازها و مشکلات ورثه شهدا و افراد دارای معلولیت اقدامات مهم و عملی صورت گرفته است . همچنان آقای آریوبی افزودند؛ ختم بروکراسی، سیستم سازی، تفکیک اسناد سیاه از سفید و تامین شفافیت از اولویت ها وزارت بوده که با هماهنگی و تلاش های همکاران توانسته ایم یک سیستم درست مدیریتی را ایجاد نمایم؛ تا سهولت و سرعت در روند ارایه خدمات به ورثه شهدا و افراد دارای معلولیت در آن در اولویت قرار داشته باشد. آقای آریوبی ضمن پیشرفت سایر کارها در مرکز، تاکید روی ایجاد مرکز توان بخشی و آسایشگاه برای افراد دارای معلولیت در ولایت پروان نموده و آن را یک نیاز مبرم در بازتوانایی افراد دارای معلولیت عنوان نمودند. بررسی اسناد ورثه شهدا و افراد دارای معلولیت در مرکز و ولایات،یکی از موضوع مهم اجندای این سفر بود که در رابطه معلومات ارایه نمودند. همچنان وزیر شهدا و معلولین به طور جداگانه با مستوفیت، رییس شهرسازی و اراضی، شاروالی، کمیته بررسی اسناد، احصاییه و معلومات و آمریت امور شهدا و معلولین نیز دیدار نموده و پیرامون کارهای مشترک صحبت نمودند . همچنان در بخش از برنامه رییس شورای ولایتی این ولایت صحبت نموده و از مشکلات ورثه شهدا و افراد دارای معلولیت یاد نموده و از مقام وزارت خواستند که در زمینه رسیدگی شود.





## د شهیدانو او معلولینو په چارو کی د دولت وزارت مشرتابه د کانکور عمومي اولنمره وستایله!

د شهیدانو او معلولینو په چارو کی د دولت وزارت رهبری او کارکوونکو د یوی پرتمینی غونډی په ترڅ کی د ۱۳۹۹ ال کال د کانکور ازموینې د عمومي اولنمرې شمسیې علي زاده بریا وستایله او مبارکي یې ورته وویله . د شهیدانو او معلولینو په چارو کی د دولت وزیر لعل الدین آریوبي شمسیې او د هغې کورنی ته مبارکي وویله او د نوموړی له لوري د لوړي مقام ترلاسه کول یې ستر ویاړ وباله، زیاته یې کړه: دی بریا وښوده چې زموږ ښځینه د نورو ورتیاوو څخه برخمني دي او کولای شي له دی ستر ویاړونه وګټي . ښاغلي آریوبي د هیواد په ټولو میرمنو او پلرونو غږ وکړه، چې خپلې لوڼې ښوونځیو ته واستوي، تر څو باسواده او د هیواد د ابادۍ او پرمختګ سبب وګرځي . ښاغلي آریوبي څرګنده کړه، چې دا ډول غونډې د یاد وزارت کاري برخه نه جوړوي، خو د هیواد لپاره د هر افغان لاسته راوړنه باید بالارزښته وګڼل شي او په ویاړ یې د ستاینې او خوښۍ غونډې جوړې شي. نوموړي د کانکور عمومي اولنمرې ته ډاډ ورکړ، چې وزارت به یې په راتلونکې کې هم تر ممکن حده ملاتړ وکړي . د وزارت د ځینو برخو سلاکارې صفیې صدیقي هم د شمسیې عمومي اولنمرګۍ د هیوادوالو لپاره ویاړ وباله وویل، چې افغان کورنۍ باید خپلو لوڼو زده کړو ته وهڅوي او ملاتړ یې وکړي . تکړه شاعر جمعه نور مجبور د شمسیې د بریا په وصف کې هغې ته خپل لیکل شوی شعر واوره، چې پکې د هیواد یو زیارکښه میرمن کټل شوی وه . د کانکور عمومي اولنمرې په خپلو خبرو کی د وزارت له رهبرۍ نه د مننې تر څنګ وویل، چې د ملي وحدت ټینګښت او قومي، ژبنیو او نورو تعصباتو د ختمولو لپاره به کار وکړي او د راتلونکي یو اریني موخه یې خپل هیواد او هیوادوالو ته خدمت دی . ښاغلي آریوبي میرمن شمسیه په ستاینلیک او نغدي مرسته او د وزارت مسولینو د ګلونو په ګیډیو او بیلابیلو ډالیو وستایله او د نورو بریاوو هیله یې ورته وکړه.





## وزیر دولت در امور شهدا و معلولین و هیئت همراه شان از ولایات جنوب شرقی دیدار نمودند!

لعل‌الدین آریوبی وزیر دولت در امور شهدا و معلولین و هیئت همراه شان طی سفر دو روزه، از ولایات لوگر، پکتیا، خوست و پکتیکا دیدن نموده و مشکلات، خواست ها و پیشرفت های کاری مربوط به اشخاص دارای معلولیت و ورثه شهدا را از نزدیک بررسی کرده و به آنان رسیدگی کردند.در این سفر دو روزه که از ولایت لوگر آغاز گردید، آقای آریوبی با والایان، آمران امور شهدا و معلولین ولایتی، ورثه شهدا، اشخاص دارای معلولیت و جوانان ولایات یاد شده نشست ها و بحث های جدا گانه انجام دادند.پس از آنان عازم ولایات پکتیا، خوست و پکتیکا شدند و بر علاوه بحث ها و نظریات با والیان ولایات متذکره، از دست آوردها و پیشرفت های کاری آمریت های امور شهدا و معلولین نظارت نموده هدایات لازم جهت بهبود ارایه خدمات دادند.آقای آریوبی جهت هماهنگی بیشتر مرکز با ولایات هدایات همه جانبه در راستای بهبود عرضه خدمات به گونه معیاری و شفاف به ورثه شهدا و افراد دارای معلولیت به مسوولان سپرده افزودند، همه در قبال این قشر مسوولیت داریم تا بر علاوه پرداخت حقوق سالانه شان، زمینه کاریابی، تحصیلات و سایر حقوق اجتماعی را به آنان فراهم سازیم.وی در باره ایجاد سیستم و میکانیزم وزارت، مبارزه با فساد اداری، خدمات از یک دریچه واحد و ساخت مرکز تماس قهرمان (کال سنتر) معلومات همه جانبه ارایه نمود و دست آوردهای اخیر وزارت را یک گام مثبت و موثر در راستای حکومت داری خوب عنوان نمود.سفر ایشان در ولایات یاد شده با استقبال گرم مقامات، ورثه شهدا، افراد دارای معلولیت، جوانان، فعالان مدنی و مطبوعات مواجه شد.در جریان این سفرها محترم محمدالدین قانع مشاور ارشد و محترم گل احمد عثمانی رئیس نظارت و ارزیابی وزارت دولت در امور شهدا و معلولین، از جریان پروسه ارزیابی اسناد و ثایق شهدا و معلولین نظارت نموده؛ رهنمودها و مشوره های لازمی را برای آوردن اصلاحات و شفافیت در این پروسه به مسوولان سپردند.در جریان این دیدارها ورثه شهدا و افراد دارای معلولیت بر ایجاد آسایشگاه، صندوق مالی حمایوی و فراهم نمودن زمینه کار و تحصیل را برای ورثه شهدا و معلولین ولایات متذکره، تاکید نموده و آن را از نیازهای اساسی شان عنوان نمودند.





## د کونړ د شهیدانو ورثې او معلولیت لرونکو وګړو د اسنادو ارزونه په چټکه او مستحقینو ته به یې حقوق حواله شي!

د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزیر ښاغلي لعل الدین اریوبي سره د کونړ د شهیدانو ورثې او معلولینو استازو وکتل.په دې لیدنه کې چې د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د ولسمشر سلاکار عمرا خان منیب او د وزارت د تخنیکي چارو مرستیالې جمیلې نورستانۍ هم ګډون درلود، د کونړ نه راغلو د شهیدانو ورثې او معلولینو استازو ښاغلي اریوبي ته د وزارت د دوهیمې کلیزې مبارکي وویله، د وزارت لخوا وروستي پرمختګونه او اصلاحات یې وستایل او د وزارت مشرتابه څخه یې د خپل ملاتړ د دوام ژمنه وکړه.دوی له ښاغلي اریوبي سره په کونړ کې د شهیدانو ورثې او معلولیت لرونکو وګړو د حقوقو خنډ، بېکارۍ او زده کړو په تړاو خپلې ستونزې او اندېښنې شریکې کړې.د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزیر د دوی له راتګ او ملاتړ مننه وکړه او ژمنه یې وکړه، چې په کونړ کې د اسنادو او وثیقو له ارزونې وروسته به د شهیدانو ټولو وارثینو او معلولیت لرونکو وګړو ته حقوق ورسېږي.نوموړي وویل، چې هود لري د کونړ جنګ ځپلو ولسونو د ستونزو، غوښتنو او وړاندیزونو له نږدې اورېدو په موخه کونړ ولایت ته سفر وکړي او د حل لپاره ورته مناسبه چاره ومومي.د ناستې په پای کې د کونړ د شهیدانو ورثې او معلولینو استازو، ښاغلي لعل الدین اریوبي ته د غوره رهبرۍ او ښو خدمتونو د ترسراوي په ویاړ کونړۍ پکول او چپنه ډالۍ کړل.





## د ننګرهار ولایت د شهیدانو د ورثې او معلولینو د اسنادو او وثیقو د څېړنې بهیر په ژر بشپړ شي!

د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزیر لعل الدین آریوبي په ولسي جرګه کې د ننګرهار د خلکو استازي نبي الله باز، د شهیدانو ورثې او معلولینو سره وکتل.ښاغلي نبي الله باز د ننګرهار د شهیدانو د ورثې او معلولینو په استازیتوب د ننګرهار ولایت د نظامي او ملکي شهیدانو ورثې او معلولینو ته پر وخت د حقوقو د ورکړې، نویو تثبیت شویو معلولینو او شهیدانو ورثې د بانکي سازۍ، د اسنادو او وثیقو د څېړنې بهیر ژر بشپړولو او بربېښنایي تذکرو ورکړې برخه کې پر چټکتیا ټینګار وکړ .د یاد ولایت د شهیدانو ورثې او معلولینو استازو وړاندیز وکړ چې د نورو چارو تر څنګ باید حکومت د سولې په روان بهیر کې هم دوی له پامه ونه غورځوي او ونده یې هېره نه کړي .ښاغلي آریوبي د ننګرهار د شهیدانو ورثې او معلولینو استازو نه مننه وکړه، وویل: مسولینو ته یې لارښوونه کړې چې د دې ولایت د شهیدانو د ورثې او معلولینو د اسنادو او وثیقو څېړنه ژر بشپړه کړي .ښاغلي آریوبي د بربېښنایي تذکرو د ورکړې بهیر چټکول مهم وګڼل او د سولې په پروسه کې د معلولینو په ګډون یې ټاکید وکړ، وویل چې یاد قشر د جګړې اصلي قرباني دي باید غوښتنو، وړاندیزونو او نظرونو ته یې رسیدګي وشي. زیاته یې کړه چې د یادو مسایلو په اړه یې د معلوماتو او مرکزي احصاییې ملي ادارې او د سولې وزارت مسولینو سره ناستې کړې دي.





## د پکتیا ولایت د شهیدانو ورثې او معلولینو ته رسیدګي مو مسولیت دی!

د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزیر لعل الدین آریوبي د یاد ولایت د ولایتي شورا پخواني غړي حفیظ الله مبارز، مدني بنسټونو، د شهیدانو ورثې او د معلولینو استازو سره وکتل.ښاغلي مبارز د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزارت وروستي پرمختګونو وستایل او د شهیدانو د کورنیو او معلولینو لپاره یې سترې لاسته راوړنې وګڼلې . نوموړي په پکتیا کې د شهیدانو د ورثې، ښځینه او نارینه معلولیت لرونکو وګړو لپاره د کارموندنې، زده کړو او ظرفیت لوړونې فرصتونو برابرولو او نظامي او ملکي شهیدانو ورثې او معلولینو ته پر وخت د حقوقو په ورکړه ټینګار وکړ.ښاغلي آریوبي د پکتیا د شهیدانو ورثې او معلولینو ته د خدمتونو او اسانتیاوو برابرولو په اړه معلومات وړاندې کړه وویل، چې تر ممکن حده به دغه قشر ته رسیدګي وکړي .د ناستې په پای کې یې ښاغلي آریوبي ته د شهیدانو ورثې او معلولینو ته د غوره خدمتونو له کبله د (غوره بریالیتوب) په نامه کتاب هم ډالۍ کړ.





## وزیر دولت در امور شهدا و معلولین با اعضای اداره عالی تفتیش دیدار نمود!

لعل‌الدین آریوبی وزیر دولت در امور شهدا و معلولین با اعضای اداره عالی تفتیش در رابطه به آوردن اصلاحات و شفافیت بیشتر در سیستم کاری و مدیریتی، دیدار و صحبت نمودند.آنان در رابطه به اصل حکومت داری خوب، کاهش بروکراسی و جلوگیری از فساد اداره صحبت نموده وافزودند، در قبال مسوولیت و تامین شفافیت که دولت افغانستان در برابر افراد دارای معلولیت و ورثه شهدا دارد، لازم بر آن است تا از بخش های مختلف امورات وزارت دولت در امور شهدا و معلولین وقتاً فوقتا تفتیش و نظارت گردد.اعضای تفیش در زمینه توضیحات داده افزودند، پروسیجر کاری ما در بخش های مختلف در مقر این وزارت پیش برده می‌شود که شامل: رسیدگی به شکایات، تامین شفافیت و پاسخگوی در مصرف بودجه، تفتیش مالی، تفتیش عملکرد و محیط زیست و مالی برای ۵۰ روز دربر خواهد گرفت می‌باشد.لعل الدین آریوبی ضمن قدر دانی از این راهکار اداره عالی تفتیش گفتند، ما در کنار سیستم سازی و محو بروکراسی و آوردن اصلاحات، تفیش و مبارزه با فساد را در اولویت ها و سر مشق کاری خود قرار داده ایم و با همکاران ما جهت ارایه خدمات شفاف به ورثه شهدا و افراد دارای معلولیت در این مورد تلاش می‌ورزیم.آقای آریوبی افزود: ما از این کار استقبال می نماییم و بر علاوه اینکه در زمینه همکار شما می‌باشیم، هیچ موانع و خلا موارد ذکر شره در سد راه شما وجود نخواهد داشت.آریوبی بخاطر تامین اصل شفافیت در سیستم و توزیع حقوق ورثه شهدا و افراد دارای معلولیت، از اعضای اداره عالی تفتیش خواستند تا در قسمت پرداخت حقوق و مصرف بودجه در این اداره توجه و کار کرد جدی داشته باشند.





## د ارزګان ولایت د شهیدانو د ورثې او معلولینو اړوند چارې به چټکې شي!

د ارزګان والي د یاد ولایت د نظامي او ملکي شهیدانو د ورثې او معلولینو په حقوقو کې د خنډ، اسنادو او وثیقو د څېړنې او بربښنایي تذکرو په اړه خبرې وکړې او یادو برخو کې یې د بهړنیو اقداماتو غوښتنه وکړه.ښاغلي لعل الدین اریوبي له والي منته وکړه، چې د ارزګان د شهیدانو ورثې او معلولینو اړوند مسایل یې شریک کړه.ښاغلي اریوبي وویل: ارزګان جګړه ځپلی ولایت دی، د شهیدانو د ورثې او معلولینو د اسناد او وثیقو څېړنه به یې ژر بشپړه شي، د بربښنا تذکرو د وېش بهیر به یې چټک او یاد قشر ته به یې حقوق پر وخت ورسیږي. زیاته یې کړه: شهیدانو د ورثې او معلولینو د ستونزو، غوښتنو او وړاندیزونو اورېدو په موخه به نږدې راتلونکي کې دغه ولایت ته سفر وکړي.ښاغلي اریوبي څرګنده کړه، چې د ځمکو او ښارجوړولو وزارت او د ښاروالی مسولینو سره په همغږی به ارزګان کې د یاد قشر لپاره اسایشګاه جوړه او د سرپناه لپاره به ورثه د نومرو د وېش لړی هم پیل شي.





# د کندهار ولایت د شهیدانو د ورثې او معلولیت لرونکو وګړو اړوند چارې به رغنې او چټکې شي!

د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزیر لعل الدین آریوبي د کندهار ولایت د شهیدانو ورثې، معلولیت لرونکو وګړو استازو، قومي مشرانو او د ولایتي شورا غړو سره وکتل .د یاد ولایت د شهیدانو د ورثې او معلولینو استازو د پاتې حقوقو ورکړې، د برېښنایي پېژندپاڼو د وېش پر چټکتیا، د روان کال د حقوقو ځنډېدو، د نمرو وېش او د اسایشګاه لپاره د امکاناتو پر زیاتېدو خبرې وکړې او خپلې ځینې ستونزې او وړاندیزونه یې شریک کړه.ښاغلي آریوبي د کندهار د شهیدانو او معلولینو استازو څخه مننه وکړه، چې د شهیدانو د ورثې او معلولینو د ستونزو شریکولو په موخه یې تشریف راوړی دی، زیاته یې کړه: په ۱۹ کلنه جګړه کې د لوی کندهار ولسونو زیاته قرباني ورکړې او ستونزو ته رسېدنه یې د وزارت لومړیتوب دی.ښاغلي آریوبي وویل، چې د یاد ولایت د شهیدانو د هغې ورثې او معلولینو د پاتې حقوقو د ورکړې لپاره به اقدام وکړي، چې اسناد یې قانوني ستونزې ولري او نورو ته به یې حقوق د اسنادو او وثیقو له څېړنې، برېښنایي تذکرې اخیستو او بایومتریک وروسته ورکړل شي .ښاغلي آریوبي څرګنده کړه، چې کندهار کې د اسنادو او وثیقو څېړلو او برېښنایي تذکرو د وېش بهیر چټکتیا په اړه یې مسولینو ته اړینې لارښوونې کړې دي او په دې برخه کې به بشپړه روڼتیا تامین شي .ښاغلي آریوبي وویل، چې د کندهار د شهیدانو ورثې او معلولینو د ستونزو او وړاندیزونو اورېدو په موخه به نږدې وخت کې کندهار ته کاري سفر وکړي او ټولو اقشارو سره به جلا لیدنې ولري.





## د هېواد ساتنې د اتل شهید سترجنرال عبدالرازق خان اڅکزي د شهادت د دویم تلین په مناسبت د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت د وزیر لعل الدین آریوبي پیغام!

پوره دوه کاله وړاندې په همدې ورځ د افغانستان د دفاع او ساتنې زړور، صادق او ژمن جنرال عبدالرازق خان اڅکزی د هېواد د تاریخي دښمنانو د بوده تروریستي برید په پایله کې په شهادت ورسېد او موږ ټول یې دردمن کړو .زه د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزارت د رهبرۍ پلاوي په استازیتوب جنرال صاحب تادین خان او کورنۍ ته یې، د افغانستان وسله والو ځواکونو او ټولو هېوادوالو ته د خپلې خواخوږۍ او تسلیت مراتب وړاندې کوم .شهید ستر جنرال عبدالرازق خان د افغانستان د ارضي تمامیت، ملي حاکمیت، د خلکو د دفاع او ساتنې، په برخو کې د زړورتیا او وطنوستنې بې ساري بېلګه وه. نوموړی په خپلواکۍ او خاوره منین سرتېری و، د وطن ساتنې په سپېڅلې جګړه کې مخکښ او خپلو سرتېرو سره د دښمن پر وړاندې لومړی لیکه کې جنګېده. وېره، شانګ او تسلیمي یې د مبارزې د قاموس برخې نه وې. زړورتیا او قاطع دریځ یې امنیتي او دفاعي ځواکونو ته د هېواد د دښمن خپلو نه ماتېدونکې انګېزه ورکړې وه او هر یو یې ستری قرباني ته چمتو کړی و .د شهید ستر جنرال عبدالرازق خان کارنامې او سرښندنې به د هېواد په تاریخ کې تلپاتې او راتلونکو نسلونو ته به د خاورې ساتنې او د دښمن پر وړاندې د مقاومت ستر کتاب وي .د افغانستان د وسله والو ځواکونو هر سرتېری عبدالرازق دی، د نوموړي د ارمانونو د پوره کولو لپاره په مېړانه د خپلې خاورې دفاع کوي او د ټولو هېوادوالو هر اړخیز ملاتړ ورسره دی . په درنښت



## د اسنادو او وثیقو تر څېړنې وروسته به د راروان کال په لومړیو کې، د شهیدانو مستحقو وارثینو او معلولیت لرونکو وګړو ته د تېرو کلونو پاتې حقوق په یو ځایي بول ورکړل شي!

نن د لړم په لومړۍ ورځ، د افغانستان د معلولینو سرتاسري شورا غړو، د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزیر لعل الدین اریوبي سره ولیدل.د افغانستان د معلولینو سرتاسري شورا رئیس او د ولایتونو نه راغلو استازو د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزارت د راسخته کېدو د دوه کلن بریالي ماموریت د ترسراوي په وياړ د وزارت مشرتابه ته مبارکي وویله او په دې برخه کې یې د ښاغلي لعل الدین اریوبي هڅې، اراده، کار، اصلاحات، روڼتیا، د بیروکراسۍ کمول، د سیستم برېښنايي کول او د فساد پر وړاندې مبارزه وستایل او په چارو کې یې ورته د لا بریاوو هیله وکړه.د افغانستان د معلولینو سرتاسري شورا رئیس مسعود ساپي وویل، چې د ښاغلي اریوبي په مشرۍ له تېرو دوو کلونو راهیسې ندی وزارت پرمختګونه او بریالي مزل بې مثاله دی او دده په خبره چې، چا ته یې اجازه ور نه کړي چې د روانو اصلاحاتو، پرمختګونو او شفافیت پر وړاندې خنډونه جوړ کړي.ښاغلي ساپي او له ولایتونو نه راغلو د معلولینو استازو هر یوه یې خپل وار، په مرکز او ولایتونو کې د حقوقو ځنډېدل، د قانون تطبیق، معلولینو ته د سولې په پروسه کې ونډه ورکول، د دولت په ټولو برخو کې د دوی سیاسي ګډون، د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزارت په لارښود کې سمون راوستل، د زده کړو زمینو برابرول، معلولینو ته کاري چانسونو را منځته کول، د ځمکو وېش او نور مسایل شریک کړل.د ګډونوالو د ستونزو، غوښتنو او وړاندیزونو له اورېدو وروسته، د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزیر ښاغلي لعل الدین اریوبي دوی ته هم د وزارت د دوه کلن بریالي ماموریت په پار مبارکي وویله او د همېشني ملاتړ او ټوامداري همکارۍ له امله یې ترې مننه وکړه.نوموړي خوښي څرګنده کړه چې د راتلونکي ۱۴۰۰ لمریز کال لپاره د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزارت له لوري وړاندې شوی بودیجه د ملي شورا له لوري منل شوې، چې له مخې یې به په مرکز او ولایتونو کې د شهیدانو ورثې او معلولیت لرونکو وګړو د اسنادو او وثیقو له څېړنې او ارزونې وروسته به ټولو مستحقینو ته ځنډېدلي حقوق د را روان کال په لومړۍ ربعه کې، په یوځایي تول ورکړل شي.همدارنګه یې زیاته کړه، چې د سولې په پروسه کې د ګډون او استازولۍ په تړاو به د سولې ملي بخلاثلي شورا سره په همغږۍ کار وکړي، تر څو د سولې په پروسه کې هم د ونډې زمینه برابره شي .دده په خبره، چې معلولینو ته به ملي دسترخوان برنامه کې د ونډې لپاره له اړوندو ادارو سره له نږدې کار کوي او په دولتي ادارو کې د سیاسي ګډون په برخه کې زیات کار شوی، چې پرمختګونه، لاسته راوړنې هم لري او په دې تړاو به هلې ځلې دوام لري .ښاغلي اریوبي څرګنده کړه، چې د زده کړو، روغتیا، د ځمکو وېش، کارموندنې او نورو برخو کې یې هم لازم اقدامات کړي او په راتلونکي کال کې به د لا زیاتو لاسته راوړنو شاهدان وو .ده د افغانستان د معلولینو سرتاسري شورا څخه وغوښتل، چې د اسنادو څېړلو، برېښنايي پېژندپاڼو وېش او بایومتریک په برخو کې له وزارت سره په مرکز او ولایتونو کې همکاري وکړي، تر څو یاد بهیرونه ژر بشپړ شي او د بشپړه روڼتیا، دقت او سرعت له مخې مستحقین خپل حقوق تر لاسه کړي.





## وزیر دولت در امور شهدا و معلولین بر تسریع روند توزیع تذکره الکترونیکی تاکید نمود!

لعل الدین اریوبی وزیر دولت در امور شهدا و معلولین با طارق صدیقی معین اداره ثبت احوال و نفوس روز پنجشنبه، مورخ 10 میزان سال جاری در مقر وزارت دیدار نموده و پیرامون همکاری های مشترک و تسریع روند توزیع تذکره های الکترونیکی در مرکز و ولایات صحبت نمودند . آقای اریوبی تاکید نمود که روند توزیع تذکره الکترونیکی در مرکز و ولایات باید سرعت داده شود و همچنان کمیت وظرفیت کارمندان نیز افزایش پیدا کنند. او علاوه نمود که این وزارت برای تامین شفافیت، تفکیک و جدا سازی اسناد جعلی و خیالی ضرورت دارد تا تمام ورثه شهدا و افراد دارای معلولیت بایومتریک و سپس تذکره الکترونیکی توزیع گردد . آقای اریوبی همچنان یادآوری نمود که روند توزیع تذکره های الکترونیکی برای ورثه شهدا و افراد دارای معلولیت در ولایات به کندی پیش می رود او تاکید نمود که در ولایات اولویت باید برای ورثه شهدا و افراد دارای معلولیت داده شود . طارق صدیقی معین ثبت احوال و نفوس ضمن حمایت و استقبال از تامین شفافیت، گفت؛ در زمینه مشکلات ورثه شهدا و افراد دارای معلولیت برای توزیع تذکره الکترونیکی رسیدگی خواهد کرد و همچنان باتوجه به نیازمندی، کارمندان جدید را در زمینه استخدام و به کار خواهد گماشت.





## د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزیر لعل الدین آریوبي سره د بدخشان د خلکو استازي داکتر ضیا یفتلي لېدنه وکړه!

په ولسي جرګه کې د بدخشان د خلکو استازي داکتر ضیا یفتلي نن ماسپښین د تلې په شپږمه، د بدخشان د شهیدانو وارثینو او معلولیت لرونکو وګړو ستونزې له، د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزیر لعل الدین آریوبي سره شریکې کړې او د هغوی د ژر حل غوښتنه یې وکړه .ښاغلي یفتلي د بدخشان د شهیدانو وارثینو او معلولیت لرونکو وګړو د کلنیو امتیازاتو د پر وخت نه رسیدنې، د ثبت او راجستریشن پروسه کې سستوالي، بې کارۍ او د برېښنایي پېژندپانو د وېش بهیر د نه چټکتیا ستونزې له محترم لعل الدین آریوبي سره شریکې کړې .ښاغلي آریوبي له نوموړي څخه مننه وکړه، چې د بدخشان د جګړو ځپلو هېوادوالو له عمده ستونزو یې خبر کړ . ښاغلي آریوبي ژمنه وکړه، چې په بدخشان کې د یاد قشر ستونزو ته د ژر رسېدنې په موخه به د یاد ولایت د شهیدانو او معلولینو چارو آمر ته لازمه سپارښتنه کوي، څو مستحق کسان له خپلو کلنیو حقونو برخمن شي، د راجستریشن او برېښنایي پېژندپانو د وېش پروسو کې اغېزمن چټکوالی راشي .نوموړي ډاډ ورکړ، چې د نوي برېښنایي سیستم او اصلاحاتو د پلې کېدو په پایله کې به، چې اوسمهال یې د دوی وزارت د پلې کېدو په هڅه کې دی، د ټول هېواد په کچه د شهیدانو وارثینو او معلولیت لرونکو وګړو ستونزې حل او هوارې شي.





## دولتي ورځپاڼو سره د همغږۍ او همکارۍ پراختیا اړینه ده!

د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزیر لعل الدین آریوبي د دولتي ورځپاڼو عمومي رییس فرید احمد فرهنګ سره وکتل؛ د همکارۍ او همغږۍ پر پراختیا یې خبرې وکړې . ښاغلي فرهنګ د دولتي ورځپاڼو د شالید، فعالیتونو او په دې برخه کې د رامنځته شویو اصلاحاتو او پرمختګونو په اړه معلومات وړاندې کړه، وویل چې د دولتي ورځپاڼو په مدیریت، محتوا، چاپ او نورو برخو کې بنسټیز اصلاحات رامنځته شوي، هڅه یې دا ده، چې دغه لړۍ نوره هم پراخه کړي. نوموړي ډاډ ورکړ، چې د افغان اعلاناتو له لارې به د دې وزارت اعلانات او د ورځپاڼو له لارې به یې د خبرونو او نورو فعالیتونو د خپراوي په برخه کې هر اړخیزه همکاري وکړي. همدارنګه وزارت او د شهیدانو او معلولینو چارو ولایتي آمریتونو ته به یې هم پر وخت دولتي ورځپاڼې استوي . ښاغلي آریوبي د دولتي ورځپاڼو او افغان اعلاناتو په برخه کې رامنځته شوي اصلاحات وستایل وویل، چې د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزارت ټول تدارکاتي اعلانونه به له دې وروسته افغان اعلاناتو ته استول کېږي او د اړتیا وړ دولتي ورځپاڼو ترلاسه کولو لپاره به هم یو مېکانېزم جوړ شي . ښاغلي آریوبي د دولتي سکتور ملاتړ د ټولو مشترک مسوولیت وګاڼه او د دوه اړخیزې همکارۍ او همغږۍ په ټینګښت او پراختیا یې ټاکید وکړ.





## ورکشاپ یک روزه بازنگری استراتژی ملی معلولین به رهبری و میزبانی وزارت دولت در امور شهدا و معلولین دایر گردید!

این ورکشاپ که به رهبری وزارت دولت در امور شهدا و معلولین و به کمک تخنیکی دفتر خدمات ماین پاکی ملل متحد برگزار شده بود، نمایندگان معلولین، مسوولان نهادهای خیریه داخلی و خارجی و کارمندان وزارت اشتراک داشتند .در نخست محترم جمیله نورستانی معاون امور تخنیکی وزارت دولت در امور شهدا و معلولین، اشتراک کنندگان ورکشاپ را خوش آمدید گفته و اظهار خرسندی نمودند که خوشبختانه وزارت دولت در امور شهدا و معلولین توانسته است با همکاری سایر نهادهای مربوطه، یک سال قبل استراتیژی ملی معلولیت را ترتیب و جهت نیل به عملی نمودن آن جنبه عمل دهد .آقای (گیتان دی پیپویس) نماینده دفتر خدمات ماین پاکی ملل متحد، نیز روی تسریع و افزایش هماهنگی میان وزارت دولت در امور شهدا و معلولین و سایر نهادهای امداد رسان تاکید نموده و تعهد بر همکاری های بیشتر در این عرصه نمودند .در ادامه محترم حبیب خان خاخي مشاور وزارت دولت در امور شهدا و معلولین، استراتیژی ده ساله معلولیت را در قالب پریزنتیشن به اشتراک کنندگان ارایه نمودند .بر بنیاد معلومات آقای خاخي، هدف اساسی این ورکشاپ آن است تا تمام افراد دارای معلولیت از معیشیت، کار، صحت، بازسازی، روانی، حمایت اجتماعی، مصونیت، ترانسپورت، مشارکت سیاسی، حمایت بشردوستانه فوری، ورزش، تفریح و سایر نیازهای جامعه به مانند سایر اتباع کشور یکسان مستفید شوند .قابل تذکر است که ورکشاپ منکور هر سه سال بعد دایر میگردد؛ تا ادارات مسوول مربوطه، نمایندگان معلولین و اشتراک کنندگان؛ این استراتژی را مورد بحث و نظر قرار دهند و در صورت نیاز تغییرات در ان رونما گردد.





## د جنډر برخې ستونزو ته د رسیدګۍ پر نویو اصولو او مېکانېزم غونډه وکړه!

د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزارت د جنډر برخې مسولینو د وزارت مقام ته د خپلو فعالیتونو راپور وړاندې کړ او په یاده برخه کې د ځانګړې تګلارې او اصولو د رامنځته کېدو او پیاوړتیا په اړه هر اړخیز بحث او د نظرونو تبادله ترسره شوه . د جنډر برخې مسولینو ښځینه معلولینو او ځګره خپلو مېرمنو ستونزو ته د رسیدګۍ په موخه د وزارت مشرتابه سره خپل نظرونه، وړاندیزونه او غوښتنې شریکې کړې او په دې برخه کې یې د پراخو اصلاحاتو په راتلو ټاکید وکړ . د وزارت د نظامي شهیدانو او معلولینو چارو د همغږۍ مرستیالې صبرې اندړ، چې د غونډې مشرې کوله، د معلولیت لرونکو او ځګره خپلو مېرمنو د ژوند د ښه والي او ستونزو ته یې د پر وخت رسیدنې لپاره د شکایتونو صندوق پر رامنځته کېدو ټینګار وکړ زیاته یې کړه، چې له دې لارې کولای شو معلولیت لرونکو مېرمنو، د وزارت ښځینه کارکوونکو او ښځینه مراجعینو ستونزې تشخیص او د حل لپاره یې جدي اقدامات ترسره کړو.





## د ازادۍ سیالی له لارې د معلولینو ملي انستیتوت ته بریالی شوی رییس د وزارت کارکوونکو ته ور وپېژندل شو!

نن د تلې په ۲۴مه، د معلولینو ملي انستیټوت ته نوی رییس، دریا خان بهیر د شهیدانو او معلولینو په چارو کې دولت وزارت د رهبرۍ پلاوي او کارکوونکو ته وروپېژندل شو. د ښاغلي بهیر د پېژندنې غونډه کې د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزارت د نظامي شهیدانو او معلولینو چارو د همغږۍ مرستیالې صبرۍ اندړ نوي رییس ته د بریا مبارکي وویله او په چارو کې یې ورته د بریالیتوب هیله وکړه . اغلې اندړ زیاته کړه، چې معلولیت لرونکي وګړي ښې او فوق العاده ورتیاوې لري، کومې چې باید په سمه توګه مدیریت شي .نوموړې د معلولینو ملي انستیټوت نوي رییس ته لارښوونه وکړه، چې په یاد انستیټوت کې د معلولینو لپاره د حرفوي او تخنیکي زده کړو بهیر چټک کړي او د کیفیت لوړولو برخه کې لازم اقدامات وکړي .نوي رییس دریا خان بهیر د وزارت له مشرتابه مننه وکړه، چې ده ته یې د هرکلي په پار غونډه نیولې او خوښې یې څرګنده کړه، چې الله ورته د ټولنې د دردېدلي او جګړې ځپلي قشر (معلولینو) لپاره د خدمت کولو زمینه برابره کړې ده . ښاغلي بهیر ژمنه وکړه، چې د افغانستان اساسي قانون په رڼا کې به د معلولیت لرونکو هېوادوالو لپاره په بوره اخلاص او ایمانداری خدمت کوي او د یاد انستیټوت له لارې به د معلولینو حرفوي او تخنیکي زده کړو د کچې لوړولو، د ظرفیت او کیفیت د پیاوړتیا او د هغوی د ټولنیز پرمختګ لپاره به اغېزمنې هلې ځلې کوي.





## د نظامي شهیدانو د ورثې او معلولینو د اسنادو او وثیقو د څېړنې کمېټو سره هر اړخیزې همکارۍ ته ژمن یو!

د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزارت د نظامي شهیدانو او معلولینو چارو د انسجام مرستیالې او د وزارت وارسي کوونکې صبرۍ اندړ د شهیدانو او معلولینو د اسنادو او وثیقو د څېړنې او سمونې کمېټې غړو سره وکتل . په دې غونډه کې د وزارت مسولینو، د دفاع او کورنیو چارو وزارتونو، ملي امنیت، سترې محکمې، لويي څارنوالۍ او د مرکزي احصایې اداری استازو ګډون درلود . آغلې اندړ د نظامي شهیدانو د ورثې او معلولینو د اسنادو او وثیقو د څېړنې پر څرنګوالي، چټکتیا، ستونزو او نورو اړخونو هر اړخیز بحث وکړ او ژمنه یې وکړه، چې د یادې کمېټې د کارونو چټکتیا، روڼتیا او ستونزو حل لپاره هر ډول اسانتیا برابرو او همکارۍ ته چمتو ده. نوموړې د کمېټې غړو ته لارښوونه وکړه، چې خپلې چارې قانون سره سمې په شفافه توګه ترسره کړي . د کمېټې استازو د خپلو فعالیتونو، لاسته راوړنو او شته ستونزو په اړه خبرې وکړې وویل، چې اسناد او وثیقې په دقیقه توګه څېړي، تر څو روڼتیا تامین، د فساد او نورو ناقانونه کړنو مخنیوی وشي.





## نشست مشورتی روی تعدیل قانون حقوق و امتیازات بازماندگان شهدا و معلولین دایر گردید!

رهبری وزارت دولت در امور شهدا و معلولین جهت تغیرات و تعدیل در قانون حقوق و امتیازات ورثه شهدا و معلولین با ایجاد کمیته مشخص، تدویر جلسه نمودند .خانم صبری اندر معاون انسجام امور شهدا و معلولین نظامی جهت تدقیق و ارزیابی این قانون گفتند: با ملاحظات و نیازها که ورثه شهدا و معلولین دارند لازم بر آن است تا روی تعدیل قانون ورثه شهدا و معلولین یک بازنگری جدی و مبرم صورت گیرد، وی افزود، با اشاره بر این که چگونه بتوانیم در زندگی اقتصادی، معیشتی و اجتماعی این قشر تغیرات بنیادی را درج نمائیم، ابتدا باید روی وثیقه ملی که همانا قانون اساسی کشور و سایر قوانین است توجه نظر نمائیم؛ تا از این طریق بتوانیم موارد بنیادی و اساسی را در پر تو قانون به آنان عرضه بداریم .خانم اندر اشاره نمود که هدف اصلی تعدیل این قانون فراهم نمودن زمینه مساعدت مالی برای بازماندگان شهدا و معلولین، تامین حقوق و امتیازات بازماندگان شهدا و مفقودین و تعیین شاخص های تثبیت بازماندگان شهدا و مفقودین می‌باشد، تا آنان از حقوق مسلم اجتماعی خود بهرمند شوند .در این نشست فیصله بر آن شده تا همه روزه الی نهایی شدن تعدیل این قانون، به مدت یک ساعت اعضای کمیته روی تعدیلات و موارد لازم در درج و بررسی آن نشست متواتر صورت گیرد ؛ تا باشد به زودترین فُرصت این قانون به گونه اساسی آن نهایی گردد.






## د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزارت اداري هئیت او د کمک مؤسسې مسولینو ترمنځ د همغږۍ ناسته وشوه!

نن شنبه (۵،تلې)، د شهیدانو او معلولینو په چارو د دولت وزارت مدیره هئیت او د کمک نړیوالې مؤسسې د مرکزي زون چارواکو سره د همغږۍ د لا زیاتوالي په موخه په یاد وزارت کې ناسته ترسره کړه.د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزارت د تخنیکي چارو مرستیالې جمیلې نورستاني د وزارت په استازولۍ له یادې مؤسسې وغوښتل، چې د ځګرو خپلو هېوادوالو سره دې د مرستو ټول فعالیتونه له وزارت سره په پوره همغږۍ ترسره کړي او د مستحقینو په تشخیص کې دې له شفافیت کار واخلي.د کمک مؤسسې د مرکزي زون مسوول هم له یاد وزارت سره د همغږۍ پر زیاتوالي ټینګار وکړ او ژمنه یې وکړه، چې د شهیدانو وارثینو او معلولینو سره د مرستې او همکارۍ د راتلونکي نوي کال ټولې برنامې او پلانونه له وزارت سره شریکوي او په ګډه به یې د پلي کېدو زمینه برابروي.د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزارت هڅه کوي، چې له نړیوالو موسسو او خیریه بنسټونو سره د پوره همغږۍ، همکارۍ او شفافیت له مخې د ځګرو اغېزمنو هېوادوالو لپاره په شفاف ډول خدمتونه وړاندې کړي.





## دلغمان شهیدانو او معلولینو چارو امریت له لوري د شهیدانو د کورنیو او معلولینو د حقوقو په وخت ورکړی او شفافیت په موخه د بایومټریک سیستم فعال شوو!

ددغي پروسي پیل کي د لغمان مرستیال والي الحاج شهزاده مظلوم یارسربېره د ملي امنیت مرستیال ډګروال قدرت الله اماني او یو شمېر نورو مسوولینو برخه اخیستي وه .د لغمان د شهیدانو او معلولینو د چارو امر بشیر احمد حق پال د معلوماتو له مخي چي د وزارت په لارښوونه نن د شهیدانو د کورنیو او معلولینو ته د حقوقو په وخت ورکړی او فساد مخنیوي په موخه د بایومټریک پروسه پیل کړه چي پرمهال به د شهیدانو وارثین او معلولین بایومټریک شي . نوموړي وویل، له دي وړاندي د بېلا بېلو ادارو څخه ګډ جوړ شوي کمېسیون له لوري د شهیدانو د وارثینو او معلولینو د اسنادو څېړنه ترسره شوي ده .په ورته مهال د لغمان مرستیال والي الحاج شهزاده مظلوم یار خوښي اوښوده چي د شهیدانو دکورنیو او معلولینو لپاره د حقوقو په وخت ورکړي او شفافیت په موخه دا پروسه پیل شوه .هغه د شهیدانو او معلولینو چارو امریت ته لارښوونه وکړه چي د ټولو شهیدانو د کورنیو او معلولینو لپاره دي ورکړل شوي حقوق او امتیازات په وخت ورکړي.





## آمریت امور شهدا و معلولین ولایت سمنگان با پوهنتون مولانا جلال‌الدین بلخی تفاهمنامه همکاری امضا نمود !

آمریت امور شهدا و معلولین ولایت سمنگان با پوهنتون مولانا جلا الدین بلخی واحد سمنگان تفاهمنامه همکاری امضا نموده و بر اساس آن زمینه تحصیل به ورثه شهدا و افراد دارای معلولیت فراهم خواهد شد . این تفاهمنامه که روز شنبه، مورخ ۲۶ میزان منعقد شد، بر اساس آن ورثه شهدا و افراد دارای معلولیت این ولایت می توانند که به طور رایگان و همچنان شامل تخفیف به تحصیلات اش ادامه دهند.



